سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۱۲/۰۸

# واکدارانو ته یو دوه دری خبرې

د واکدارانو نه می مطلب هغه افغانان دی، چې یا یی د نورو (پردیو) په مرسته په دولتی مقاماتو تکیه وهلی او له هر ډول ویری، مسؤولیت او وجدانی احساس څخه پرته په خپلو بی وزلو خلکو او خصوصاً په ښارونو کی حکومت کوی، استبداد چلوی، وژل، وهل او ټکول کوی، چور او چپاول کوی، د نورو شتمنی غصبوی او خپلی ګیډی پرسوی، او یا هغه کسان چی بیاهم د پردیو د ګټو د پاره یی ګرمه وسله را اخستی او د همدی دولتی قدرت د لاس ته راوړلو د پاره د هر ډول دهشت او وحشت نه کار اخلی، په هیچا رحم نه کوی او څومره یی چی توان رسی بیګناه خلکوته د ښځو او ماشومانو په ګډون مرګ ژوبله اړوی او په کلو او ښارونو دواړو کی یی د خلکو ورځی ژوند د درونو، غمونو او کړاونو سره مخ کړیدی، وژل کوی، ترل کوی، سنګسارول کوی او لکه د فرعونانو غوندی بی وسلی، مظلوم او بی دفاع وطنوال ځانونو ته په سجدی کولو مجبوروی. دا دواړو خواو ته واکداران او زورواکان باید په دی هم و پوهیږی چی:

ـ په دی دنیا د دوی په څیر بی شمیره ظالمان او وینی خوړونکی انسانان تیرشویدی، مونږ ته یواځی د هغوی تاریخ را پاتی دی او تر د قیامته پوری به د نړی د هغو انسانانو د لعنت ویلو نه خلاص نه شی چی د استبداد او ظلم نه کرکه لری. فرعونان، چنګیزیام، هټلر او پیروان یی او نور د ابوجهل د لاری ملګری یی ډیر ښه مثالونه دی.

ـ ایا تاسو دواړو خواو ته مشرانو او واکمنانو د یوی کمی شیبی د پاره هم په دی فکر کړیدی چی تاسوبه د دی خپلو بی وزلو، نادارو، وږو، بیکارو، رنځورو او مجبورو وطنوالو په وړاندی د داسی دوامداره ناروا، اعمالو د سره رسول د پاره د لوی الله ج په وړاندی څه ځواب و وایی؟ ایا تاسو به د هغو وږو ماشومانوته د خدای ج په محکمه کی چی یا مو په انتحاری حملو کی ورنه مور او پلار واخستل او یامو له هوا نه په بمباریو کی، څه ځواب ورکړی؟ او یا به هغه مور او پلار ته چی د دوی ماشوم اولاد مو د خپلو شومو هدفونو نه قربان کړیدی څه و وایاست چی ولی مو دا ناجایزه اعمال سرته رسولی دی؟ ایا دا ټول هغه بی وزلی چی ستاسو د زور ازمایلو په نتیجه کی یا وژل شوی او یا معیوب شویدی، د الله ج مخلوق او بنده ګان وو او که ستاسو؟ ایا په دی څمکه چی الله ج یی مالک دی یواځی تاسو او ستاسو کورنی د ژوند کول حق لری که د الله ج ټول مخلوق؟

ـ ایا تاسوته دوژلو، ژوبلولو، لوټلو او د نورو د بربادی او د ملک د تباهی نه پرته، د ژوند کولو بله هیڅ لاره نه ده معلومه او ستاسو ښونکو تاسو ته د بشریت د ستر لارښود حضرت محمد مصطفی (ص) د خصلتونو او لارښونو په هکله هیڅ نه دی ویلی او یواځی همدایی درته ښولی دی چی د نورو په اذیت او نورو ته په زیان رسولو سره ژوند وکړی؟
ـ ایا تاسو د انسانی اخلاقو په نو م څه پیژنی؟ که یی پیژنی ایا دا اختیار لری چی له هغه کار واخلی؟
ـ ایا تاسو پوهیږی چی ستاسو حمایت کونکی او جګړی ته را کشونکی څوک دی؟ ایا دا چی تاسوته وسلی او پیسی درکوی، داچی تاسو د خپلو ورونو، خویندو ، میندو او پلرونو د وژلو او د خپل کور د ورانو د پاره په شاټپوی او ملاتړ درنه کوی ستاسو دوستان دی؟ ایا په دی باور لری چی دوی به چیری هم د تاسو سره په داسی حالاتو کی چی که وغواړی خپل وران ویجاړ هیواد راجوړ کړی ملګرتیا وکاندی او که یواځی د تباهی او بر بادی د پاره در سره ملګری دی؟ ایا تاسو نه پوهیږی چی ستا د وطن په شتمنیو ژوندی ګاونډی چی نن یی تاسو د خپل ملک د ورانولو د پاره لمسولی یاست، سبا به تاسوته د وطن د آبادی د پاره مخ در واړوی؟
ـ او وروستی خبره داچی تاسو مشرانو، رهبرانو، واکدارانو او زورواکانو تراوسه په دی لاره کی چی تاسو دواړه خواوی خپه لاره د حق اود الله د رضا لاره بولی، څومره خپل اولادونه او د وینی شریکان په دی لار کی قربانی کړیدی؟
ښاغلو یواځی زه نه ، د دی دنیا په مخ هر انسان که هغه په لویو ښارونو کی ژوند کوی، متمدن او د پوهی خاوند وی او که هغه په کلو،باندیو او ځنګلونو کی ژوند کوی او د هر ډول پوهی نه محروم هم وی په دی ډیر ښه پوهیږی، چی د تاسو ښاغلو سره د یوی پوښتنی ځواب هم نشته او د قیامت په ورځ به د لوی الله ج د عدالت او حساب سره ضرورمخا مخ کیږی. حتی تر هغی د مخه هم دا امکان هم شته چی د یوه ملی انسانی دولت په جوړیدو سره همدلته په همدی دنیا د داسی عدالت سره مخ شی چی تاسو یی تصور هم نه شی کولی. خو په ګناهونو اعتراف او له هغی نه توبه ویستل هیڅکله نا وخته نه دی او د توبی دروازی هم لا تر اوسه د بشر په مخ نه دی بندی شوی نو، پخوا له دی چی نا وخته شی ، په بشری تاریخ کی د مستبدینو په نوم یاد شی او د الله ج په وړاندی تور مخ ودریږی، دا به ډیره درته ښه وی چی د عقل نه کار واخلی، خپل دوست او دښمن وپیژني، په خپلو خلکو رحم وکړی، حق ته غاړه کیدی، د خدای ج فرمان ومنی، د جنګ جګړی نه لاس واخلی، سوله وکړی او تردی زیات ځانونه د نړیوالو د خندا او مسخرو وړ مه ګرځوی.
ښاغلو د مهربانی له مخی د یوی کمی شیبی د پاره فکر وکړه چی ستاسو عقاید او هدفونو ته د رسیدو ښه لاره به کومه وی؟ سوله، ورورری، دوستی، یوبل ته درناوی او حق ته غاړه ایښودل؟ که کرکه، جنګ، مرګ ژوبله، دښمنی او شرارت؟ ښه فکر وکړی او بیا فیصله وکړی. الله ج دی درته د سمی لار د ټاکلو هیدایت وکاندی، او که د هیدایت وړنه یا ستی نو بیا مو الله ج ..................... پای.

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و سروده های دیگری از این شاعر معزز را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!